جهان غرځنی

۲۰۱۳/۰۹/۱۹

# د غفلت په خوب ویده پښتون قام ته زما چیغه

خدای بخښلی ملنګ جان رښتیا ویلی:

نن زړګی می د افسوس په اور سوځیږی — چه ګیدړکوی زمری باندی ګواښونه
د کارغه سترګی لـه بازه نـه شرمیږی — پـه همت سره راپـورته شه پښتونـه

پښتون قام په رښتیا ویده دی،همت یی بایلودلی او د ناپوهۍ او د غفلت له خوبه بیداریدل یی ناشونی دی،سره له دی چه دومره نادودی ګوری بیا هم نه پوهیږی چه څه وکړی؟

څه وکړم کله چه نور قامونه ګورم او بیاخپل پښتون قام ته وګورم ډیره غصه راشی بیرته ځان غلی کړم وایم که رښتیا ووایم هسی نه چه زما د خپلوپښتنوله خوا په کفرتورن نه شم بیا به نه د بر شم او نه د کوز! ځای ځیګی به می ورک شی او که څه نه وایم زړه می چوی، په زړه یی تیرولی نه شم، ځان ګرم بولم چه ولی خپل تاریخی رسالت نه ادا کوم ،نن په دی کشمکش کی پورته ویره له ځانه لیری کوم او خپل پښتون قام ته دزړه له تله یوه چیغه په دی هیله کوم ګوندی زماپه دی چیغه زما ویده قام سترګی وموخی او د غفلت له خوبه لږ بیداره شی اوپه خپل ګریوانه کی سربښکته کړی چه زه څه وایم؟

څه چه تاسو لولئ دا د بلخ ولایت ته زما د سفریوه تریخ یاد دی چه چیغه تری جوړه شوه او غواړم چه ستاسو غوږ.ونوته یی درورسوم:

زه او زما یو څو ملګری بلخ ولایت ته د یوی کاری موخی له وجی ولاړو نو ملګرومی راته وویل راځه چه د حضرت علی(رض)د روضی زیارت وکړو نو ما ورته وویل وروره حضرت علی(رض)په جزیرهّ العرب کی په شهادت رسیدلی وو او روضه یی هم په نجف کی ده خو هغه زماخبره رد کړه چه نه داسی نه ده اصلی قیصه داسی ده چه کله علی صاحب په شهادت ورسیده نو د هغی جسد مبارک یی په یوه تابوت کی کښیښوده او دری نور یی چه تش تابوتونه وه په څلورو اوښانو بارکړل اوپه دښته کی یی پریښودل اوپه کوم اوښچه د علی صاحب تابوت بار وه هغه سیده بلخ ته راورسیده.

په دی کی ډیر کلونه تیر شول چه بالاخره د افغانستان یو پاچا په خوب کی حضرت علی (رض) ولیده چه ورته وایی ته د اسلام پاچا یی او زه دلته په دی دښته کی پروت یم راشه او زما په قبر زیارت جوړ کړه! او بیا دوخت پاچا راغی اوپه دی ځای یی دا زیارت جوړ کړو.

کله چه می د ملګری د خولی نه داسی یوه ناشونی قیصه واوریده نو په خندا شوم ملګری می را باندی په قهر شو ویلی ولی خاندی؟ نو ما ورته وویل چه وروره ته خویو لیک لوستی سړی یی چه ته داسی وایی نو د نورو څه ګیله! خو هغه په خپله خبره ټینګ ولاړ وه نو ما ورته وویل چه وروره داسی هیڅ کوم تاریخی شواهد نه شته چه ستا ادعا ثابته کړی او که لږفکر وکړی نوپه دنیا کی هیڅ داسی څوک نه شته چه د خپل خپلوانو د مړی جسد دی په اوښانو بار کړی اوپه بیابانونو کی دی خوشی کړی ځکه دا د مړی مقام ته یو توهین دی، بله دا چه کیدلای شی په بیابانونو کی یی ځناوروخوری اوډیره مهمه لا دا چه وروسته له مرګه په جسد کی ډیرکیمیاوی تغیرات راځی او دا تغیرات د تودوخی د لوړی درجی سره لکه څنګه چه په جزیرةالعرب کی ده ډیرچټک او سریع وی او د اوښ د مزل د سرعت په اساس ډیره ناشونی ده چه دومره واټن دی ووهی او بیا دی سلامت راورسیږی.


خوب هم حقیقت نه دی بلکی یوخیال دی او پاچا داپه خوب کی لیدلی دی. خیر مونږ پوهیږو چه پښتانه د یوی خبری خاوندان دی او زما ملګری هم په خپله خبره ټینګ ولاړ وه نو ماورته وویل چه وروره ته صحیح وایی سمه ده لاړ به شو زه به دسپاه سالار غازی وزیر محمـــد اکبــــر خان مقبری ته ورشم او دعا به ورته وکړم تر څو دیو افغان په صفت د هغه روح ته له الله(ج)نه د مغفرت غوښتنه وکړم او هغه د مبارزو قدردانی وکړم .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ



کله چه روضی ته ورننوتلو نو زه د وزیر محمد اکبرخان مقبری ته ورغلم گورم چه څو قفله یی دروازی ته پراته دی، په قبر یی د خاورو او دوړو څادر غوړیدلی دی فقط د هغه تصویرچه دیوڅوکاغذی گلانو په مینځ کی هغه د قبرد پاسه ایښی وه!!! ډیرخفه شوم او د ځانه سره می وویل چه گوره دی چه د دی هیواد اصلی قهرمان او د فیرنگی استعمارپه مقابل کی د هیواد د آزادئ د ډگر یوستر مبارز وو او د افغانستان د تاریخ یوه ستره هستی ده څومره بی قدره پروت دی.
مافکر کولو چه د داسی شخصیتونو او ملی قهرمانانو مزارونه باید د ځوانانو او راتلونکو نسلونو له پاره د علمی سفریوه بیلگه وی چه ځوان زده کوونکی ورته راځی او گوری چه څوک د وطن سره مینه لری او د هیواد د خلکوخادم وی که هغه مړ هم وی بیا هم څومره د قدروړ وی دا راتلوونکو نسلونو ته د عبرت یوستر درس ورکولی شی خو افسوس چه دلته هرڅه سرچپه دی اصلی میرنی هیڅ قدرنه لری.د حضرت علی (رض) په نامه یوه خیالی روضه چه هیڅ نوع تاریخی حقیقت نه لری اوپه هغی کی خلک د الله سره د شریک په لویه او عظیمه گناه اخته کیږی ځکه هلته په واضحه الفاظو لیکلی وه چه (آن که در دل حب علی ندارد کافر است،علی مشکل کشا است) ډیره مجلله، ښکلی او سینگار شوی وه خو د دی هیواد د آزادئ د لاری د یو پیاوړی مبارز د مزار د روازه تړلی اوپه خاورو اودوړو کی پټه وه زړه می نا قراره شوچه آخیر دا ولی؟ زما د ولی د ځواب په لټه کی شوم ترڅومسؤول کس پیدا کړم او دمسئلی په هکله تری وپوښتم بلاخره یوکس راته وویل چه نورڅوک خونشته خو د روضی د موزیم آمر صاحب شته دی کولای شی چه د هغه نه معلومات تر لاسه کړی، د روضی د موزیم آمرڅخه چه نوم یی عبدالقیوم انصاری راوښود وپوښتل چی ورروه دا دروازه ولی بنده او دا مقبره ولی داسی په خاورو دوړو پټه ده نوهغه ښاغلی په پارسی کی وفرمایل چه ( برادر اینجا بسیار مشکلات است مردم سر پوهنتون ودانشگاه جنجال دارد واگر این جا راباز کنیم جنجال دیگرهم زیات میشه)یعنی وزیــــر محمد اکبرخان هم پښتون وه او که د دی میرانه وستایل شی نوبیا ستونزی پیدا کیږی ماورته وویل چی دا خو یواځی په پښتنوپوری اړه نه لری بلکی د ټولو افغانانو اتل دی وویل (می فهمم ولی نه می توانم).
د دی خبرو په آوریدو سره ډیر خفه شوم چه زمونږ په خپل ټاټوبی کی اوس پښتونواله هم جرم دی، که پښتون یی نو هیڅ نه یی ژوندی دی لا څه کوی چه مړی دی هم د دی سزا گوری.



کله چه می ملگری راباندی پوهه شول نو راته یی وویل وروره مه خفه کیږه او دا موضوع نوره مه څیږه دلته کاروان په څټ شوی دی گوډ او شل اول شوی او نور وریسی دی،په دی هیواد کی هغه سړی اتل اوقهرمان وی چه خلک ووژنی،لوټ ماری وکړی، د خلکو په ناموس اوعزت تیری وکړی، احمد شاه مسعود وگوره څومره لوی قهرمان دی !!!!!
کابل یی وران کړ، ۶۵۰۰۰ نه زیات انسانان یی ووژل، د کابل په افشارو کی خو یی هزاره گان په عام ډول
دا هغه قفلونه دی چه دروازه پری قفل شوی ده
قتل کړل خلاصه د هغی ټول قبیحه اعمال گران دی چه وشمیرل شی ولی هغه ته ملی اتل ویل کیږی او حتی د مرگ ورځیی عمومی رخصتی وی.
پښتانه نور سیند وړی دی، او بلخ خو هسی تش په نامه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د افغانستان په جغرافیوی قلمرو کی دی نور خو د دی سیمی پاچاعطاګی( د دکاندارځوی) ځان افغان نه ګڼی او د افغان د نوم نه دومره کرکه لری چه په تذکره کی یی هم نه غواړی نو ستا د اتلانو به څه قدر وکړی، دلته که دی د پښتون او پښتونولۍ خبری وکړی نو د طالب په نامه به دی ووژنی او د پښتنومرګ خو هسی هم آسان دی ځکه چه د پوښتنی یی څوک نه شته نو ښه به دا وی چه چپ شی، خو ضمیرمی ملامته کولم چه ولی چپ شم؟د یو څو لحظو دغه چوپتیا می په یوه چیغه بدله شوه نو ومی غوښتل چه د لیکانی په ژبه دغه چیغه چه زما دزړه له تله راپورته شوی ده د خپل ویده قام غوږته ورسووم خو په دی هیله که څوک یی وواوری او لږ غور پری وکړی.

پای

دټول افغان ملی ویبپاڼی څخه په مننه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ